دافغانســتان اسلامی جمـهوري دولت
د ټاکنیزو شکایتونو څیلواک کمیسیون

دولت جمهـوری اسلامـــی افغانستان
کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتـی

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Electoral Complaints Commission

پرله پسې شمیره: ( ۱۰۷ )

نیټه : ۱۳۹۳/۷/۱۷

## د خوست ولایت د ولایتي شورا د کاندیدانو د شکایتونو په اړه وروستی پرېکړه

د ۱۳۹۳ کال د ولایتي شوراګانو له ټاکنو وروسته د ټاکنو د قانون د ۶۳ مې مادې د (۲) فقرې او د ټاکنیزو شکایتونو او اعتراضونو د ثبت اورسیده ګی طرزالعمل د ۶ مې مادې د حکم پر بنسټ د خوست ولایت په انتخاباتي حوزې پورې اړوند (۷۶) مورده ټاکنیز شکایتونه د انتخاباتي شکایتونو په څپلواک کمیسیون کې ثبت شوي دي. د دې شکایتونو له جملې څخه ( ۳۸ ) مورده یې د ټاکنو د ورځې د تخلفاتو او درغلیو اړوند وو، چې د رایې ورکولو پر مهال او د ټاکنو د ترسره کېدو له ورځې وروسته د ۴۸ ساعتونو په موده کې د کاندیدانو او د هغو د استازو له خوا د ټاکنیزو شکایتونو په څپلواک کمیسیون کې ثبت شوي او (۳۸ ) شکایتونه د لومړنیو پایلو په اړه وو، چې د پایلو تر اعلان وروسته د ټاکنیزو شکایتونو د ثبت او رسیده ګی د طرزالعمل د ۱۴مې مادې له مخې د ۲۴ ساعتونو په موده کې د کاندیدانو له خوا ثبت شوي دي.

د ټاکنیزو شکایتونو څپلواک کمیسیون ثبت شوي شکایتونه د انتخاباتو د قانون د ۶۶ مې مادې د (۱) فقرې، د ذکرشوي قانون د ۶۳ مې مادې د (۲) فقرې او د ټاکنیزو کمیسیونونو د تشکیل، دندو او واکونو قانون د ۲۶ مادې د (۸) فقرې او د ثبت اورسیده ګی طرزالعمل د ۳۰ مې مادې پر بنسټ د ۱۵ / ۳ / ۱۳۹۳ نېټې په علني غونډه کې، چې د انتخاباتي کمیسیونونو د تشکیل، دندو او واکونو قانون د ۲۴ مې مادې د (۳) فقرې او د ثبت او رسیده ګی طرزالعمل د ۲۴ مې مادې حکمونوته په پام سره دکاندیدانو، سیاسي ګوندونو، مدني ټولنې او ټولیزو رسنیو د استازو او د ملي او نړیوالو څارونکو او کتونکو په حضور کې وڅېړل او د معترضینو د ټولو شکایتونو له اورېدو وروسته یې د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۱ ) فقرې پر بنسټ د ټاکنیزې حوزې په کچه د شکایت کوونکو کاندیدانو په غوښتنه د هغو انتخاباتي محلونو د رایو د تفتیش او بیاشمېرلو تصمیم ونیوه، چې په اړه یې شکایتونه ثبت شوي دي.

د خوست ولایت د ولایتي شورا د رایو د محلونو د تفتیش چارې د رایو د اعتبار د تشخیص او بررسی د لایحې د ۶ مې مادې د (۱) او (۲) مې فقرې له مخې د ټاکنو د قانون د ۵۵ مې مادې د حکم په رعایت سره په لومړنیو پایلو کې د ټاکنو د کمیسیون له خوا د بریالیو اعلان شویو او معترضو کاندیدانو تر څارنې لاندې ترسره شوې.

د ټاکنیزو شکایتونو څپلواک کمیسیون د ټاکنو د قانون د ۶۵ ، ۶۸ او ۶۹ مې مادې مطابق او د رایو د تفتیش او څېړنو ، چک لیستونو او اثباتیه مدارکو ته په پام سره د دې ولایت د ولایتي شورا د ټاکنو د هغو محلونو په ابطال

Add: Kabul, Shash- Darak opposite Askari Club
Independent Electoral Complaints Office.

پته: کابل، نهمه ناحیه، د شش درک ګولایی، کور نمبر 1 او2
دټاکنیزو شکایتونو څپلواک کمیسیون

وارده ۲۷۹ ریاست حقوق

چې لیست یې له دې فیصلې سره (۱) شمېره ضمیمه دی، پرېکړه وکړه. همدارنګه د تفتیش د پروسې د چک لیستونو، او اثباتیه مدارکو پر بنسټ یې په مشخصو محلونو کې، چې لیست یې له دې پرېکړې سره (۲) شمېره ضمیمه دی د مشخصو کاندیدانو د رایو په ابطال پرېکړه وکړه.

د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون دارالانشاء موظفه ده، چې د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۳) فقرې او د ذکرشوي قانون د ۶۶ مې مادې د (۴) فقرې د حکم پر بنسټ د بیا شمېرنې د پایلو (۱۷۹) فورمې ، چې د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د رسمي مهر په وسیله تصدیق او په نښه شوي له دې فیصلې سره مل د تطبیق لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته رسماً ابلاغ او د اجراء په اړه یې د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون ته رپوټ ورکړي.

عزیزالله آریافر غړی

پیغمبر قل دوغن غړی

نادر محسنی منشي

ریدا عظیمی مرستیاله

عبدالستار سعادت

ضمیمه شماره (1)

## لیست مراکز و محلات باطل شده شورای ولایتی ولایت خوست

| شماره | کود مرکز | محل | تصمیم | مجموعه محلات باطل شده |
|---|---|---|---|---|
| 1 | 1401006 | 02 | **ابطال محل 02** | 1 |
| 2 | 1401015 | 02 | **ابطال محل 02** | 1 |
| 3 | 1401162 | 09 | **ابطال محل 09** | 1 |
| 4 | 1401043 | 02،03 | **ابطال محلات 02،03** | 2 |
| 5 | 1403174 | 04 | **ابطال محل 04** | 1 |
| 6 | 1408051 | 03 | **ابطال محل 03** | 1 |
| 7 | 1401021 | 03 | **ابطال محل 03** | 1 |
| 8 | 1401023 | 02 | **ابطال محل 02** | 1 |
| 9 | 1409059 | 03 | **ابطال محل 03** | 1 |
| 10 | 1405071 | 02 | **ابطال محل 02** | 1 |
| 11 | 1401032 | 03 | **ابطال محل 03** | 1 |
| 12 | 1404138 | 04 | **ابطال محل 04** | 1 |
| 13 | 1413100 | 04 | **ابطال محل 04** | 1 |
| 14 | 1413101 | 04 | **ابطال محل 04** | 1 |
| 15 | 1401046 | 02 | **ابطال محل 02** | 1 |
| 16 | 1408184 | 01 | **ابطال محل 01** | 1 |
| 17 | 1406125 | 03 | **ابطال محل 03** | 1 |
| 18 | 1401030 | 02 | **ابطال محل 02** | 1 |